د پوهنې وزارت

د رسامۍ هنر

دویم ټولګی



Ketabton.com

د چاپ کال: ۱۳۹۷ هـ . ش.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملي سرود

دا وطن افغانستان دی
کور د سولې کور د توري
دا وطن د ټولو کور دی
د پښتون او هزاره وو
ورسره عرب، گوجر دي
براهوي دي، قزلباش دي
دا هیواد به تل ځلیږي
په سینه کې د آسیا به
نوم د حق مو دی رهبر

دا عزت د هر افغان دی
هر بچی یې قهرمان دی
د بلوڅو د ازبکو
د ترکمنو د تاجکو
پامیریان، نورستانیان
هم ایماق، هم پشه یان
لکه لمر پر شنه آسمان
لکه زړه وي جاویدان
وایو الله اکبر وایو الله اکبر

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

د پوهنې وزارت

د رسامۍ هنر

دويم ټولګی

د چاپ کال: ۱۳۹۷ هـ . ش.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کتاب ځانګړتیاوې

مضمون: د رسامی هنر

مؤلفین: د تعلیمي نصاب د هنر برخې د درسي کتابونو مؤلفین

اډیټ کوونکي: د پښتو ژبې د اډیټ دیپارټمنټ غړي

ټولګی: دویم

د متن ژبه: پښتو

انکشاف ورکوونکی: د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تألیف لوی ریاست

خپروونکی: د پوهنې وزارت د اړیکو او عامه پوهاوي ریاست

د چاپ کال: ۱۳۹۷ هجري شمسي

د چاپ ځای: کابل

چاپخونه: بهیر مطبعه

برېښنالیک پته: curriculum@moe.gov.af

د درسي کتابونو د چاپ، وېش او پلورلو حق د افغانستان اسلامي جمهوریت د پوهنې وزارت سره محفوظ دی. په بازار کې یې پلورل او پېرودل منع دي. له سرغړوونکو سره قانوني چلندکیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پوهنې د وزیر پیغام

اقرأ باسم ربک

د لوی او بښونکي خدای ﷻ شکر په ځای کوو، چې موږ ته يې ژوند رابښلی، او د لوست او لیک له نعمت څخه يې برخمن کړي یو، او د الله تعالی پر وروستي پیغمبر محمد مصطفی ﷺ چې الهي لومړنی پیغام ورته (لوستل) و، درود وایو.

څرنګه چې ټولو ته ښکاره ده ۱۳۹۷ هجري لمریز کال د پوهنې د کال په نامه ونومول شو، له دې امله به د ګران هېواد ښوونیز نظام، د ژورو بدلونونو شاهد وي. ښوونکی، زده‌کوونکی، کتاب، ښوونځی، اداره او د والدینو شوراګانې د هېواد د پوهنیز نظام شپږګوني بنسټیز عناصر بلل کیږي، چې د هېواد د ښوونې او روزنې په پراختیا او پرمختیا کې مهم رول لري. په داسې مهم وخت کې د افغانستان د پوهنې وزارت د مشرتابه مقام، د هېواد په ښوونیز نظام کې د ودې او پراختیا په لور بنسټیزو بدلونونو ته ژمن دی.

له همدې امله د ښوونیز نصاب اصلاح او پراختیا، د پوهنې وزارت له مهمو لومړیتوبونو څخه دي. همدارنګه په ښوونځیو، مدرسو او ټولو دولتي او خصوصي ښوونیزو تأسیساتو کې، د درسي کتابونو محتوا، کیفیت او توزیع ته پاملرنه د پوهنې وزارت د چارو په سر کې ځای لري. موږ په دې باور یو، چې د باکیفیته درسي کتابونو له شتون پرته، د ښوونې او روزنې اساسي اهدافو ته رسېدلی نشو.

پورتنیو موخو ته د رسېدو او د اغېزناک ښوونیز نظام د رامنځته کولو لپاره، د راتلونکي نسل د روزونکو په توګه، د هېواد له ټولو زړه سواندو ښوونکو، استادانو او مسلکي مدیرانو څخه په درناوي هیله کوم، چې د هېواد بچیانو ته دې د درسي کتابونو په تدریس، او د محتوا په لېږدولو کې، هیڅ ډول هڅه او هاند ونه سپموي، او د یوه فعال او په دیني، ملي او انتقادي تفکر سمبال نسل په روزنه کې، زیار او کوښښ وکړي. هره ورځ د ژمنې په نوي کولو او د مسؤولیت په درک سره، په دې نیت لوست پیل کړي، چې د نن ورځې ګران زده‌کوونکي به سبا د یوه پرمختللي افغانستان معماران، او د ټولنې متمدن او ګټور اوسېدونکي وي.

همدا راز له خوږو زده کوونکو څخه، چې د هېواد ارزښتناکه پانګه ده، غوښتنه لرم، څو له هر فرصت څخه ګټه پورته کړي، او د زده کړې په پروسه کې د ځیرکو او فعالو ګډونوالو په توګه، او ښوونکو ته په درناوي سره، له تدریس څخه ښه او اغېزناکه استفاده وکړي.

په پای کې د ښوونې او روزنې له ټولو پوهانو او د ښوونیز نصاب له مسلکي همکارانو څخه، چې د دې کتاب په لیکلو او چمتو کولو کې يې نه ستړې کېدونکې هلې ځلې کړې دي، مننه کوم، او د لوی خدای ﷻ له دربار څخه دوی ته په دې سپیڅلې او انسان جوړوونکې هڅې کې بریا غواړم.

د معیاري او پرمختللي ښوونیز نظام او د داسې ودان افغانستان په هیله چې وګړي يې خپلواک، پوه او سوکاله وي.

د پوهنې وزیر

دکتور محمد میرویس بلخي

(c) ketabton.com: The Digital Library

لړلیک

سرلیک .... مخ

١- د زردآلو انځور ١

٢- تور بانجان ٣

٣- ګل دانۍ ٥

٤- د رنګونو پېژندنه ٧

٥- د ونې رسم ٩

٦- د غاټول دګل رسم ١١

٧- ختین دخلك ١٣

٨- د رنګو د شیندلو او پوکولو په واسطه د شکلونو رسمول ١٥

٩- د غره رسمول ١٧

١٠- د رنګ په واسطه د شکل جوړول ١٩

١١- د خاورینې کاسې رنګ ٢١

١٢- له ختو څخه د شکلونو جوړول ٢٣

١٣- دکوتې رسم ٢٥

١٤- د یوه الوتونکي رسم ٢٧

١٥- د توپ رسمول ٢٩

١٦- د میز رسمول ٣١

(c) ketabton.com: The Digital Library

سرليک .... مخ

۱۷-د ځوکۍ رسمول ۳۳

۱۸- ډيزاين ۳۵

۱۹-له کاغذ څخه گل جوړول ۳۷

۲۰-له کاغذ څخه د بادي څرخ جوړول ۳۹

۲۱- د گوگړو له پلتو څخه د شکلونو جوړول ٤۱

۲۲-د چرگې رسمول ٤۳

۲۳- له کاغذ څخه د چرگې جوړول ٤٥

۲٤- د چاينک او پيالې رسمول ٤۷

۲٥-د گيلاس رسمول ٤۹

۲٦-د منگي رسمول ٥۱

۲۷- ټاپه کاري کول ٥۳

۲۸-د شکلونو رسمول ٥٥

د ښوونکي لارښود برخه: ٥۷-٥۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

د زردالو انځور

موخه: د زردالو له رسمولو او رنګولو سره د زده کوونکو بلدتیا.

پوښتنه

- په لاندې انځور کې کومه میوه وینئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

د زردالو شکل ته په ځیر وګورئ، وروسته د هغه د رسمولو پړاوونو ته پاملرنه وکړئ، هغه په خپلو کتابچو کې رسم او رنګ کړئ.



۱



۲

کورنۍ دنده

په خپلو کتابچو کې زردآلو رسم او رنګ کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تور بانجان رسم

موخه: د تور بانجان له رسمولو سره د زده کوونکو بلدتیا.

پوښتنې

- لاندې انځور ته وګورئ او ووایئ چې څه نوم لري؟
- ستاسو په آند تور بانجان پر کومو رنګونو رنګیږي؟



۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

زده کوونکي دې د تور بانجان د رسمولو پړاوونو ته پاملرنه وکړي او هغه دې رنګ کړي.



۱



۲

کورنۍ دنده

تور بانجان په خپلو کتابچو کې په پنسل رسم او بیايې رنګ کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

گل دانۍ

موخه: د گلدان له رسمولو سره د زده کوونکو بلدتیا.

پوښتنه

- ځو ډوله گلدانونه مو لیدلي دي؟

٣

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

د ګلدان د رسمولو پړاوونه په پام کې ونيسئ، هغه رسم او رنګ کړئ.



۲

۱

کورنۍ دنده

په خپلو کتابچو کې ګلدان رسم او بيايې په خپله خوښه رنګ کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د رنګونو پېژندنه

موخه: له بېلابېلو رنګونو سره د زده کوونکو بلدتیا.

پوښتنه

- تاسو څو ډوله رنګونه پېژنئ؟



(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

زده کوونکي دې د درې ډوله (سره، ژېړ، آسماني) رنګونو په باب له یو بل سره خبرې وکړي، بیا دې آسماني او ژېړ، سور او ژېړ او آسماني او سور رنګونه سره یوځای او ګډ کړي.

آسماني



ژېړ

شین

سور

ژېړ

نارنجي

آسماني

سور

بنفش

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې په خپله خوښه له پورتنیو انځورونو څخه یو انځور رسم او رنګ کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ونې رسم

موخه: د ونې له رسمولو سره د زده کوونکو بلدتیا.

پوښتنه

- په لاندې شکل کې د څه شي رسم وینئ؟

۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

د ونې د رسمولو پړاوونو ته په پاملرنې سره، هغه په خپلو کتابچو کې رسم او رنګ کړئ.



۲



۱

کورنۍ دنده

په خپلو کتابچو کې ونه رسم کړئ، بیایې د خپلې خوښې په رنګونو رنګ کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د غاټول د ګل رسم

موخه: د غاټول ګل له رسمولو او رنګولو سره د زده کوونکو بلدتیا.

پوښتنه

- ستاسو په آند غاټول ګل کوم رنګ لري؟



۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

زده کوونکي دې د غاټول گل د رسمولو پړاوونو ته په پاملرنې سره، خپل رسم له لومړي پړاو څخه پیل کړي، له هغه وروسته چې د پنسل په واسطه رسم بشپړ شو، بیا دې هغه رنگ کړي.



۱



۲

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د کتاب له مخې غاټول گل په خپلو کتابچو کې رسم او رنگ کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ختين دخلک

موخه: د ختين دخلک له رسمولو او رنګولو سره د زده کوونکو بلدتيا.

پوښتنه

- آيا تاسو ويلی شئ چې له لانديني دخلک څخه څه ګټه اخيستل کېږي؟



٣

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

د خټين «دخلک» د رسمولو پړاوونو ته په پاملرنې، هغه په خپلو کتابچو کې په پنسل رسم او بیایې رنګ کړئ.



۱

۲

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې په خپلو کتابچو کې له خپلې خوښې سره سم خټين دخلک رسم، بیا دې رنګ کړي او ټولګي ته دې راوړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د رنګ د شيندلو او پو کولو په واسطه د شکلونو رسمول

موخه: زده کوونکي به د رنګ د پو کولو په واسطه د شکلونو له جوړولو سره آشنا شي.

پوښتنه

- آيا تاسو داسې شکل ليدلی دی، چې د رنګ د پُو کولو په واسطه جوړ شوی وي؟

۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

زده کوونکي دې د سپین کاغذ پرمخ رنګ واچوي، هغه دې د قلم د نیچې(دروې) په واسطه پو کړي، چې له هغه څخه ونې ته ورته شکل جوړ شي.

۱

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د خپلو کتابچو پرمخ رنګ واچوي، وروسته دې د قلم د نیچې په واسطه پو کړي، ترڅو یو شکل رامنځ ته شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د غره رسمول

موخه: د غره له رسمولو او رنګ کولو سره د زده کوونکو بلدتیا.

پوښتنه

- په لاندې انځور کې څه وینئ؟

۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

زده کوونکي دې د غره انځور د کتاب له مخې په خپلو کتابچو کې په پنسل رسم، وروسته دې هغه رنګ کړي.



۱

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې په خپلو کتابچو کې غر رسم او رنګ کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د رنګ په واسطه د شکل جوړول

موخه: له هغو تصويرونو سره د زده کوونکو آشنايي چې د رنګولو او کاغذ دقات کولو په واسطه جوړيږي.

پوښتنه

- ستاسو په نظر لاندې شکل له څه شي سره ورته والی لري؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

زده‌کوونکي دې د (۱-۲) شکلونو په شان پتنګ په نیمه بڼه رسم او رنګ کړي، وروسته دې کاغذ له منځ څخه قات کړي، ترڅو چې د پتنګ بله نیمه تنه د کاغذ پرمخ جوړه شي.

۲

۱

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې له پورتنۍ نمونې سره سم د پتنګ شکل په خپلو کتابچو کې تمرین کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خاورينې کاسې رنګ

موخه: د خاورينې کاسې له رسمولو او رنګولو سره د زده کوونکو بلدتيا.

پوښتنه

- په لاندې شکل کې څه شی وينئ؟



(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

زده کوونکي دې له (۱-۲) نمونو سره سم خاورینه کاسه په پنسل رسم او له بشپړیدو وروسته دې رنګ کړي.



۱



۲

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د کتاب له مخې د خاورینې کاسې شکل په پنسل رسم او له بشپړیدو وروسته دې هغه رنګ کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له خټو څخه د شکلونو جوړول

موخه: له خټو څخه د ماشومانو لپاره د سیمه ییزو لوبو د شیانو په جوړولو پوهېدل.

پوښتنه

-آیا تاسې کله له خټو کوم شکل جوړ کړی دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

د زده کوونکو هره ډله دې یو شکل غوره کړي، د هغې د جوړښت پړاوونو ته په ژورې پاملرنې سره دې یوه کاسه له ختو جوړه کړي.

۱

۳

۲

کورنۍ دنده

په خپله خوښه یو شی له ختو جوړ او ټولګي ته یې راوړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کوټې رسم

موخه: د کوټې له رسمولو او رنګولو سره د زده کوونکو بلدتیا.

پوښتنه

- آیا تراوسه مو کومه کوټه رسم او رنګ کړې ده؟



(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

زده کوونکي دې د (۱-۲) نمونو په شان کوټې رسم او له بشپړیدو وروسته دې رنګ کړي.



۱



۲

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې په خپلو کتابچو کې یوه کوټه رسم او بیا دې هغه رنګ کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د یوه الوتونکي رسمول

موخه: د یوه الوتونکي له رسمولو او رنګولو سره د زده کوونکو آشنايي.

پوښتنه

- تاسې کله لاندې انځور رسم کړی دی؟



۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

د یوه الوتونکي د رسمولو پړاوونو ته په پاملرنې سره، هغه په خپلو کتابچو کې رسم او رنګ کړئ.



۲



۱

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د الوتونکي انځور په کتاب کې ښه وګوري، وروسته دې هغه په خپلو کتابچو کې رسم او رنګ کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دتوپ رسمول

موخه: د توپ له رسمولو او رنګولو سره د زده کوونکو آشنايي.

پوښتنه

- په لاندې شکل کې څه وینئ؟



۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

د توپ د رسمولو پړاوونو ته په ژورې پاملرنې سره، هغه په کتابچو کې په پنسل رسم او رنگ کړئ.



٢

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې توپ د کتاب له مخې په خپلو کتابچو کې رسم او بیا دې یې رنگ کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مېز رسمول

موخه: د مېز له رسمولو سره د زده کوونکو بلدتیا.

پوښتنه

- ستاسو په نظر لاندې انځور د څه شي دی؟



۳

فعالیتونه

زده کوونکي دې د میز د رسمولو پړاوونو ته په پاملرنې سره میز رسم کړي، بیا دې هغه رنګ کړي.



١



٢

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې له خپلې خوښې سره سم میز په خپلو کتابچو کې رسم او بیا دې رنګ کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

د څوکۍ رسمول

موخه: د څوکۍ له رسمولو سره د زده کوونکو بلدتیا.

پوښتنه

- تاسې کله څوکۍ رسم او رنګ کړې ده؟



۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

زده کوونکي دې (۱-۲) شکلونو ته پاملرنه وکړي، بیا دې په خپلو کتابچو کې رسم او رنګ کړي.



۱



۲

کورنۍ دنده

په خپلو کتابچو کې څوکۍ رسم او بیا یې رنګ کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډيزاين

موخه: د رنګونو او خطونو په واسطه له ډيزاين سره د زده کوونکو بلدتيا.

پوښتنې

- د لاندې شکل په اړوند څه ويلی شئ؟
- له لاندې شکل څخه د څه لپاره ګټه اخيستل کيږي؟



۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعاليتونه

ډيزاين په ځير وګورئ، رنګونو او خطونو ته يې پاملرنه وکړئ، دا ډول شکلونه د رسامي په هنر کې د ډيزاين په نوم ياديږي.
تاسې په خپلو کتابچو کې له لاندې شکل سره سم يو شکل رسم کړئ.



۱

کورنۍ دنده

پورتنی شکل په کتابچو کې رسم او بيا يې رنګ کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له کاغذ څخه د ګل جوړول

موخه: په رنګ کاغذ کې د ګل له رسمولو او قیچی (بیاتي) کولو سره د زده کوونکو بلدتیا.

پوښتنه

-آیا کله مو له رنګ کاغذ څخه ګل جوړ کړی دی؟



۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

زده کوونکي دې له لاندې شکل سره سم په سپین یا رنګ کاغذ کې ګل رسم، بیا دې هغه د بیاتي په واسطه قیچي(پرې) کړي، وروسته دې هغه د سپین کاغذ پرمخ سریښ کړي.



۲ ۱

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې ګل رسم، وروسته دې هغه قیچي (پرې) او د سپین کاغذ پرمخ دې سریښ کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له کاغذ څخه د بادي څرخ جوړول

موخه: له لرگي او کاغذ څخه د پرپرک له جوړولو سره د زده کوونکو بلدتیا.

پوښتنه

- ستاسو په آند پرپرک (څرخه) له څه شي څخه جوړیږي؟



۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

زده کوونکي دې د پرپرک جوړولو پړاوونو ته په پاملرنې سره له کاغذ څخه د (۱ - ۲) شکل سره سم پرپرک جوړکړي، د پرپرک د حرکت په واسطه کولی شئ د باد د حرکت لوری هم معلوم کړئ.



۱



۲

کورنۍ دنده

له کاغذ څخه د پرپرک جوړول تمرین او خپل ښوونکي ته یې وښیئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ګوګړو له پلتو څخه د شکلونو جوړول

موخه: د ګوګړو له پلتو څخه د بېلابېلو شکلونو له جوړولو سره د زده کوونکو بلدتیا.

پوښتنه

- تراوسه مو د ګوګړو له پلتو څخه کوم شکل جوړ کړی دی؟



(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

زده کوونکي دې پر ډلو وويشل شي، هره ډله دې له ګوګړو څخه يوه اندازه پلتې واخلي، په خپل منځ کې له مشورې وروسته دې له خپلې خوښې سره سم يو شکل جوړ کړي.

۱



۲

کورنۍ دنده

د يوه شکل څو حرکتونه د ګوګړو له پلتو جوړ او د هغه له مخې يې په خپلو کتابچو کې په پنسل رسم کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د چرګې رسمول

موخه: د يوې چرګې له رسمولو سره د زده کوونکو بلدتيا.

پوښتنه

- تاسو کله چرګه رسم کړې ده؟

۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

زده کوونکي دې د چرګې د رسمولو پړاوونو ته پاملرنه وکړي، هغه دې له لومړي پړاو پیل او له بشپړیدو وروسته دې رنګ کړي.

۱



۲

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې په خپلو کتابچو کې یوه چرګه رسم او بیا دې هغه رنګ کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له کاغذ څخه د چرګې جوړول

موخه: له کاغذ څخه د چرګې له جوړولو سره د زده کوونکو بلدتیا.

پوښتنه

- ستاسو په آند لاندې شکل له کومو توکو څخه جوړېږي؟



۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

زده کوونکي دې (۱) شکل ته پاملرنه وکړي، هغه دې د کاغذ پرمخ رسم کړي، وروسته دې هغه د بیاتي په واسطه غوڅ، بیا دې رنگ او شکل دې په کتابچو کې سریښ کړي.



۱

کورنۍ دنده

په خپله خوښه یو شکل غوره کړئ، بیا هغه رسم او رنگ کړئ، وروسته یې په کتابچو کې ونښلوئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د چاينکۍ او پيالۍ رسمول

موخه: د چاينکۍ او پيالۍ له رسمولو سره د زده کوونکو بلدتيا.

پوښتنه

-آيا تراوسه مو له لوښو څخه کوم شکل رسم او رنګ کړی دی؟



۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

زده کوونکي دې (۱-۲) شکل د رسمولو پړاوونو ته په پاملرنې سره، چاینکه او پیاله رسم او له بشپړېدو وروسته دې رنګ کړي.



۱

۲

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې په خپلو کتابچو کې چاینکه او پیاله لومړی رسم، بیا دې رنګ کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ګیلاس رسمول

موخه: د ګیلاس د رسمولو له طریقې او رنګ کولو سره د زده کوونکو آشنایي.

پوښتنه

- کله مو ګیلاس رسم او رنګ کړی دی؟

۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

زده کوونکي دې (۱-۲) شکل د رسمولو پړاووونه په پام کې ونیسي، بیا دې ګیلاس رسم او له بشپړېدو وروسته دې رنګ کړي.



۱



۲

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې په خپلو کتابچو کې ګیلاس رسم او رنګ کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د منګي رسمول

موخه: د منګي له رسمولو او رنګولو سره د زده کوونکو بلدتیا.

پوښتنه

- ستاسو په نظر منګی پرکومو رنګونو رنګولای شئ؟

۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

زده کوونکي دې (۱-۲) شکل ته پاملرنه وکړي، هغه دې په کتابچو کې رسم او بیا دې رنګ کړي.



۱



۲

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې په خپلو کتابچو کې منګی، پړاوو پر پړاو رسم او رنګ، وروسته دې هغه قیچي او د رسم په کتابچو کې سرېښ کړي..

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټاپه کاري کول

موخه: د ټاپه کولو له طريقې څخه په ګټې اخيستنې سره د شکلونو له جوړولو سره د زده کوونکو آشنايي.

پوښتنه

- په لاندې شکلونو کې څه وينئ؟



۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

زده کوونکي دې یوه بنډۍ په منځ کې پرې کړي، هغه دې پر رنګ ککړه کړي، وروسته دې د کاغذ پرمخ ټاپه کړي.





۲

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې له بنډۍ یا کومې بلې ترکارۍ څخه ټاپه جوړه او په خپلو کتابچو کې دې پرې ټاپه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د شکلونو رسمول

موخه: د پوکڼۍ پرمخ د شکلونو له رسمولو او ښکلي کولو سره د زده کوونکو بلدتیا.

پوښتنه

- تراوسه مو د پوکڼۍ پرمخ کوم شکل رسم کړی دی؟



۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه

زده کوونکي دې د امکان په صورت کې ځو پوکڼۍ ټولګي ته راوړي، هغه دې له (۱ - ۲) شکل سره سم پو کړي او د رنګه کاغذ په واسط دې هغې ته ښکلا ورکړي او بیا دې د شکل له مخې په خپلو کتابچو کې رسم کړي.



۲

کورنۍ دنده

د امکان په صورت کې یوه پوکڼۍ له هوا ډکه کړئ، بیا د رنګه قلم او رنګه کاغذ په واسطه هغې ته ښکلا ورکړئ، یا هغه د کتاب د فعالیت له مخې رنګ کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دویمه برخه

د رسامۍ هنر د تدریس لارښود

لومړی لوست

(۱) مخ

لومړی درسي ساعت (د تدریس وخت یو درسي ساعت)

د لوست سرلیک	**د زردالو رسمول**	
عمومي موخې	د زردالو له رسمولو سره د زده کوونکو بلدتیا.	
د زده کړې موخې (پوهنیزې، مهارتي او ذهنیتي) موخې	له زده کوونکو هیله کېږي چې د هر لوست په پای کې لاندې موخوته ورسیږي • زده کوونکي به د رسمولو له طریقې سره بلدتیا پیدا کړي. • یو شکل به رسم کړای شي. • له رسمولو سره به مینه پیدا کړي.	
د تدریس لارې	ډله ییز او ځانګړي فعالیتونه، پوښتنې او ځوابونه، عملي کار او تمرین.	
د تدریس اړین توکي	کتاب، کتابچه، قلم، پنسل، پنسل پاک، د کړکي قلم، تباشیر، مشوانۍ او خط کش.	
د ارزونو لارې	په عملي توګه مشاهده کول.	
لومړني یا مقدماتي فعالیتونه	د سلام په ورکولو لنډه احوال پوښتنه، د حاضرۍ اخیستل، د ټولګي تنظیم، د کورنۍ دندې کتنه، د تېر کال له مضمون سره د نوی کال د مضمون تړاو او د نوي کال مبارکي.	۵ دقیقې
	د انګیزې رامنځ ته کول **پوښتنه:** - د زردالو د رسمولو په اړوند څه ویلی شئ؟	۵ دقیقې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وخت	د زده کوونکو فعالیتونه	د ښوونکي فعالیتونه
۳۵ دقیقه	- زده کوونکي د ښوونکي لارښوونو ته ژوره پاملرنه کوي، هڅه کوي چې هغه عملي کړي. -زده کوونکي د تختې له مخې رسمونه وباسي. - په سم ډول د ښوونکي په مرسته رسمونه بشپړ او په کتابچو کې یې رسموي. -خپل نظافت ته د رسمولو پر وخت پاملرنه کوي، خپل کالي او لاسونه له ککړتیا ساتي.	زردالو پرتخته رسم کړئ د هغه د رسمولو د پړاوونو په اړوند زده کوونکو ته معلومات ورکړئ. -د پنسل په واسطه د رسمولو وروستي پړاو په اړوند زده کوونکو ته معلومات ورکړئ. - د زده کوونکو ټول کارونه وڅارئ. - د دوی کارونه وارزوئ، د دوی د هڅونې لپاره یې رسمونه پرتخته ځوړند کړئ.

ارزونه: د خپل ډاډ ترلاسه کولو لپاره چې زده کوونکي په لوست پوهیدلي دي او که نه، د څو پوښتنو په کولو هغوی ارزوي.

کورنۍ دنده: د درسي کتاب له مخې د زردالو انځور وکاږي، بیا یې ټولګي ته راوړئ.

اضافي معلومات

ماشومان په ابتدایي دوره کې له لومړي ټولګي څخه تر دریم پورې له خپل عمر سره سم مینه وال دي چې د رسمولو، رنګولو له لارې له ساده سیمه ییزو موادو، لکه: ختې، لرګي او بېلابېلو کاغذونو څخه هغه شیان چې په ذهن کې یې لري جوړ کړي. د دې دورې زده کوونکي له ۱۵- څخه تر ۳۰ دقیقو پورې یو هنري کار په ډېره مینه تر سره کوي، خو له دې زیات یې مینه کمېږي، په دې صورت کې د هنري کار د اجرا کولو دوام څه ګټه نه لري، بلکې ځینې وختونه زیان هم لري.د (۷-۹) کالو پورې ماشومان ډېر وخت له ځان سره مصروف وي، په دې معنا چې هر څه له خپلې خوښې او علاقې سره غواړي، هغه کار چې دوی ته په ګوته کېږي. که چېرته د ماشوم په کورنۍ او چاپېریال پورې اړه ولري، په دې صورت کې ماشوم هغه کار په پوره مینه ترسره کوي او په چټکۍ سره زده کړه ترسره کېږي. په دې عمر کې زده کوونکي په بې صبرۍ سره غواړي چې د خپل کار پایله وګوري. له دې امله باید داسې فعالیت ورته غوره شي، چې په لږ وخت کې ترسره شي. هغه ماشوم چې د (۹-۱۱) کالو ترمنځ عمر لري، له بېلابېلو رنګونو سره ډېره مینه لري، هغوی پرېږدئ چې له خپلې خوښې سره سم رسمونه رنګ کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دویم لوست

(۱-۲) مخ

دویم درسي ساعت **(د تدریس وخت یو درسي ساعت)**

د لوست سرلیک	**د زردالو رنګول**	
عمومي موخې	د زردالو له رنګه کولو سره د زده کوونکو بلدتیا.	
د زده کړې موخې (پوهنیزې، مهارتي او ذهنیتي) موخې	له زده کوونکو هیله کېږي چې د هر لوست په پای کې لاندې موخوته ورسیږي • زده کوونکي به له رسمولو او رنګولو سره بلدشي. • یو شکل به رسم او رنګه کړای شي. • له رسامۍ او رنګولو سره به مینه پیدا کړي.	
د تدریس لارې	ډله ییز او ځانګړي فعالیتونه، پوښتنې او ځوابونه، عملي کار او تمرین.	
د تدریس اړین توکي	کتاب، کتابچه، قلم، پنسل، پنسل پاک، د کړکي قلم، تباشیر، مشواڼي او خط کش.	
د ارزونو لارې	په عملي توګه مشاهده کول.	
لومړني یا مقدماتي فعالیتونه	د سلام، لنډه احوال پوښتنه، حاضرۍ اخیستل، د ټولګي تنظیم، د کورنۍ دندې کتنه د تېر لوست یادونه او له نوي لوست سره د هغې اړیکه.	۵ دقیقې
	د انګیزې رامنځ ته کول **پوښتنه:** - کله مو زردالو رسم او رنګه کړې ده؟	۵ دقیقې

د ښوونکي فعالیتونه	**وخت**
- د ټولګي پر تختې زردالو رسم او د هغې د رنګه کولو د پړاوو په اړوند زده کوونکو ته معلومات ورکړئ. - د رسمولو د وروستي پړاو او د هغه د رنګونو په باب معلومات ورکړئ. - د زده کوونکو ټول کارونه وڅارئ. - د زده کوونکو د تشویق او هڅونې لپاره د هغوی رسمونه پر تخته ونښلوئ.	۳۵ دقیقه

ارزونه: د خپل ډاډ ترلاسه کولو لپاره چې زده کوونکي په لوست پوهیدلي دي او که نه، د څو پوښتنو په کولو هغوی وارزوئ.

کورنۍ دنده: د زردالو انځور وکاږئ له رنګولو وروسته یې ټولګي ته راوړئ.

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library